په باندې په قهرېدل: په چا باندې هیڅ وخت نه شي بدېدلی یا قهرېدلی؟ زما بچیانو باندې.
څه ته چمتوکیدل: هغه څه ته توانمند نه دی؟ کارکولو ته.
Nomengefüge
نظم ته راوړل: دا بیرته نظم ته راوله! دا بیرته په نظم ته راوړه!
ارام پرېږده: هیله ده ما په ارام پرېږده.
پای ته لاړ شه: هرڅه یو وخت پای ته ځي.

یو پ هیڅ وخت ځا نله نه وي. تر لړو ځانګړو پورې دا ( یعنې پ) د یوه نسبتي وی د مخه (مخ ته) راځي.

یادونه: په پورته غونډله کې ماته ،، دمخه،، څخه ،، مخ ته،، سمبرېښي.

ځنې څو کربښېنورې همد لیکلووي، خو د یوېخوا یې زه په هغه ګرامري مانا نه پوهیدم،نولومړی مې باید ځان په پوه کړی وی،بیا مې هر ګرامري نوم باید د پیژند سره څیرلی وی، چې دا لکنه بیا نوره هم غزېده.

دا دې په یاد وي،چې داهم یوه اوږده موضوع ده،چې ګران ژبپوهان پرې پوهیږي؟

# ،، تر،، until

## ډاکتر ماخان شینوار ی

د پښتو ژبې د ودې یا سمون له امله یا لکه دا ژبپوهان چې وایي دمعیاري کولو له امله ( له کبله) ما په خپلو دوه لیکنو کې دې لاندې ته ګوته نیولې وه: څه چې بهیږي، بهیدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

دي، نه اوبلن. که اوس مو د ناروغانو ځای نومولی، نو ناروغتون یا رغنتون رغنتون به مو نومولی وی او دا اخر یې: ،، تر ډېره بریده،، نه شته.

زه چې د ژباړو سره سر او کار لرم، وهمداسې د پښتو لیکوالانو لیکنې لولوم، د یو لړ ستونځو سره د پرېپوزیشن له امله لاس او ګریوان یم. دا په الماني کې روښانه دي او پوهیږې چې څه په کوم ځای کې یا د څه سره راځي، چې موږ خارجیان هم داسې لږ څه پرې پوهیدی شو. په پښتو کې دا کار داسې ښه نه دی سرته رسیدلی. که جملې لولو، نو ترمخه، ترورروسته، ... وروسته تر هغه په مصر کې له...، تر پورې ترمنځ او داسې نور لولو، نو نه پوهیږو، چې دا ،، تر ،، داسې نور څّه ټولیز(یونیوررزل) شوي او که څنګه؟

داسې راته برېښي، چې د ،، تر،، وزر شوي او د ،،د،، ، ،،په،، ، ،، له،، او داسې نورو ځای نیوی شوی.

زه د دې لیکنې سره غواړم، چې دا ،،تر،، په خپلو پولو کې رابند کړم او دا وزر یې پرې کړم، زما په اند د پوره دلایلو سره.

دا هیله، چې ژبپوهان او نور مینه وال به نه ځانله زما د پوهاوي له کبله هم د ما سره په دې کې مرسته وکړي.

د انګرېزي ژبې څو پرېپوزېشنونه راوړم د الماني ژباړې سره او بیا یې د پښتو سره پرتله کوو.

د اوس دپاره به دا درې بسیا وکړي او که نور یې په دا منځ کې راغلل، هغه به همدلته په ګوته کړو.

سره، له،تر یا (د) ... سره، له ...(څخه)، تر

With; from; until

الماني یې: mit; von; bis

زه لومړی د جرمني څخه د bis (انګرېزي: until)، چې د پښتو معنا یې تر (... پورې) ده یو څو جملې د جرمني څخه د ،، تر ،، لپاره راوړم، په دې هیله، چې ګران لوستونکي به یې بیا د ( دلته ،،له،، نه لیکم، چې وروسته پرې غږېږو) پښتو سره پرتله کړي، نه داسې نه چې پرتله یې کړي, بلکه وګوري، چې پښتو یې هم همداسې سمه ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

که څنګه او په هغه خپل وخت کې بیا دا نور دوه هم د څیرنې ( موږ بلد یو چې تر څیرنې) لاندې ونیسو.

د ،، تر،، استعمال :

پر ېپوزیشن: له دې پ سره موږ د یوڅه یعنې پیښې، او وخت او همداسې د ځاي پاى په ګوته کوو، یعنې دا په هغه وخت کارولکیږي، چې دا پورته یاد څه پوله ولري یا پولې ته ورنږدې کیږي.

لنډ: د پیښې، وخت همداسې ځاى یا یو څه اخرني ټکى یا پوله په ګوته کونه.

یادونه: دا دې دلته بیا هم په کلکه وویل شي،چې په بل هرځاى کې کارونه یې ناسمه ده، لاملونه یې راوړو.

یادونه: که داسې لږځیر شو، نو څه چې پاى لري یعنې ،،تر،، .. وي، نوهغه به هرومرو یوپیل هم لري، که دا څرګند او یا نا څرګند وي.

که ووایوچې: سپین تر کابله لاړ، نودا هرومرو له یوځاى څخه، چې پیل دئ، تللی. که په دې هکله تکرارولرو، نو راڅخه زړه بدي کیږئ مه، وایي، چې تکرار د زده کړې مورده او یا د پام بنسټ دئ.

په لاندې توګه مخ ته ځو:

۱ - تمپورال یعنې ځاى: اخر ټکى ښایی.

۲ - په مخه ښه کې هغه د بیا لیدلو وخت ډېر یا لږ پوره: تربیا پورئ.

۳ - ځاى: اخرنی موخه ښایی.

۴ - له ... تر ... د وخت یا ځاى واټن په ګوته کوي.

کنجنګشن یا تړنه: برابرارزښته جملې- برخې سره تړي.

۵ – د یوه غزېدا سور، د یوه سپکتروم ( د یوې څیرې یا څه برېښیدته، د دې په پښتو معنا لږ ستونځمنه ده، خو په نورو ژبو کې کټل ښه دي او په فزیک کې راځي)، د یوې پورته – او یوې کښته پولې ورکونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

۶ – د په خوښه پرېپوزېشن سره

۷ - bis zu د الماني په څير پرېپوزيشن په پښتو کې نه شته، دا هم همغه ،،تر ... پورې،، دی: پورته پوله په نخښه کوي، يو پوله ارزښت

۸ - bis auf : يو شي چې سرې ردوي

لکه چې وايو ټول خلک ميلمانه دې تر ... پورې( يعنې پرته له ...)

د دې په څېر: ټو ل ميلمانه دې د ... په ګډون پورې.

په پښتو کې موږ تر ... پورې لرو.

دوي دا هم معلوم کړې، چې دا وی کله ژبې ته راننوتی دی، چې هغه يې زه دلته نه راوړم.

مخامخ يا په څېر او که غواړئ معکوس يې: په المانيvon، vonab , ، پښتو معنا يا نوره هم ښه پښتو اندول يې: د ټولو له پاره ،،له ...(څخه)،، ده. دا مخ ته يې لکه له سپين څخه...، او دا بل يې لکه د هسکې مينې څخه...يا له ۳ بجو

ab د ځای د پاره راځي او von د کس دپاره.

بيلګې:

-- تر بلې مياشتې (پورې) بايد کور جوړ وي.

- هغه تر بلې مياشتې (پورې) نه شته

- تر اوسه(پورې) هرڅه ښه دي.

- څوک چې سره بيليږي يا مخه ښه اخلي: تر وروسته پورې.

- ،،ښه اوسه، تربيا پورې،،

- ،، په مخه دې ښه، تر بلې اونۍ (پورې).

-- تر دې ځايه(پورې) او نه وړاندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

( پورې ته دې پام وي، چې ورځخه( موږ دلته هم کله لیکو، چې ترې..( هغه زموږ په کلیوالي خبرو کې وايو، چې تر نه تیریدلی.. دا ترنه معنا ورځخه دي او نه ترې)) تیریدلی هم شو).

- تر جلال اباده پورې موټر نیسو، وروسته بیا باید په پښو لاړ شو.

-- ستا مور له سهار څخه تر ماښام (پورې) په پخلنځي کې ولاړه وه.

-- دا یو سفر دی، له جلالاباد څخه تر کندهاره پورې.

-- سپینه له پاسه ( څخه) تر کښته (پورې) لمده وه. یا له سر څخه تر پښو پورې لمده( که لنده) وه.

ترنه یا کنجنکشن:

- اسمان له برګ تر شین وو.

-- سپین ۲۵ تر ۳۰ کسان میلمانه کړي.

( دلته دې پام وي، چې ،، له ۲۵ تر...،. نه لیکم، ځکه چې هغه بیا خپله موخه بدلوي)

-- په دې لمنځتون کې دې ۳۰۰ تر ۵۰۰ کسان ځای شي؟

-- زه په اونۍ کې زیات وخت ۵۰ تر ۶۰ ساعتو کار کوم. ( پام دې وشي، له يې مخ ته راشي او که نه، په الماني ورسره له نه شته. نه ! داسې نه ده. له ورسره نه راځي، ځکه چې دی له تر کارنه کوي دی له ۱ تر ۵۰ یا ۶۰ ... یعنې له ۱ تر ۵۰ یا له ۱ تر ۶۰ ساعته پوري کار کوي، نو له دې امله ۵۰ تر ۶۰ ساعته پورې او نه له ۵۰ تر ۶۰ ساعته...دلته دا خبره راڅخه لږ ستونزمنه کیږي، له ۵۰ تر ۶۰ ساعته په دې مانا دي، چې دی خوله ۱ تر ۵۰ کار کوي، خو به يې داسې ولیکو، چې له ۱ ت ۵۰ او همداسې کله کله له ۵۰ څخه ور اوړي تر۶۰ پورې. ګران لیکونکي دې هم په کې خپل فکر وځغلوي. (بیا: تکرار د زده کړې مورده ).

-- سرې کړی شي چې هغه تر اخره پورې وګوري.

--- سپین کړی شي چې هغه په رڼو اوبو کې تر ځمکې تل پورې وګوري یا د ځمکې تر تل پورې....

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

--- موږ ناوخته د شپې تر دننه ( تر منځ) پورې خبرې وکړې.

یادونه: دوه کسان چې سره خبرې کوي، نو دا خبرې د هغو په منځ کې وي اونه د هغوترمنځ، لکه چې زموږ لیکوالان یې ډېر کاروي( دا دې هم په خپل ځای کې وکتل شي).

--- ژوبن هره ورځ تر زر کسانو پورې ګوري.

--- سپین په ښار کې تر نوي کیلو متره پورې په بس کې ځي.

--- د سندرغاړي ټولې سندرې پیژنم - تر اخرنۍ پورې دلته تر په دې معنا دی، چې اخرنۍ سندره یې نه پیژنم..

خبر و استعمال یا کارونه:

تر زر، تر بیا، له پښو تر سره، تر ګیډې، تر لاس خوزوني( په مخه ښه کې)، تر څو چې نور امکان نه وو.

ترې رابیل ویونه:

تر وروسته، تر وروستني، ترغزونې، تر اوسه.

لنډ: تر په هغو جملو کې راځي، چې د ،، تر،، سره ،، پورې،، مل وي یا مل کیدی شي، یواځې همدې ته دې په لیکنو کې پام وشي، سم دې وکارول شي یعنې تر...(پورې)، بل ډول کارونه یا اسعمال یې ماته ناسمه برېښي، چې ګران ژبپوهان دې هم ورته پوره پاملرنه وکړي، دا د ما سره هم مرسته ده او د دې مرستې د غوښتنې اجازه دې وي.

زه په دې لاندې جمله کې او ورته ډول جملوو کې د ،،تر،، راوړلو سره په یوه اند نه یم، چې په دې به هم خبرې وکړو .

احمدي نژاد وروسته تر هغه په مصر کې له....

په پورته جمله کې د ،، تر ،، په ځای ،، له ،، راځي.

او نور هم دلته راوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

لیکنې .................. زما وړاندیز

... انور السادات او اسراییلو ترمنځ په ..... .... په منځ کې....

دا ،، ترمنځ،، ډېر راځي او له دې امله باید لږ یې څېړنه وغزول شي

که د یوې منې پوټکی وګورو او خوسا شوی وي او په اند یو، چې منځ به یې هم خوسا وي ، نو وایو چې دا منه تر منځه (پورې) خوسا ده. او که منه مو غوڅه کړه او منځ یې خوسا وو، نو وایو چې دا منه په منځ کې خوسا ده او نه تر منځ او یا یې منځ خوسا دی..

همداسې که دوه کسان سره جوړ نه وي او جګړه سره لري، نو وایو، چې د ... او ... په منځ کې جګړه ده او نه تر منځ جګړه ده.

لولو:

پښتانه چې تر ډېره د ترهګرۍ اصلي قربانیان دي وښوده چې........

په پورته کې ،، تردېره،،...... څه نه وایي

..... له هر بل قوم ډېر.....

که دا ،، تر ډېره،، نه وي ورسره،هم موخه ترې روښانه ده،

لولو: ،،......چې تر ټولو لومړی یې د سلطان محمود غزنوي تر زمانې پورې رسیږي.،،

په پورته کې لومړی ،، تر ،، نه سم او دویم ،، تر ،، سم دئ.

یادونه: په دې هکله به نوره رڼا له ،، له .. (څخه)،، او ،، د... سره،، څخه وروسته واچوو.

په دې پسې: ،،له... څخه،، او ،،د... سره،، باندې غږېږو.

## ،،له ... څخه،، ، ،،د ... سره،، with ، from

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

په پورته کې مې مو روښانه کړل، چې تر د يوه ځّه، ځای، مهال پاي په کوته کوي اونه بل ځه.

دا پ د بل  ځای ناستی نه شي کيدی اونه بل ځه يا پ د ،،تر،، ځای ناستی. دا همداسې دۍ اوبس.

اوس راځو دې پورته پرېپوزيشنونو ( لنډ : پ ) ته.

د افغانستان په ځنو ځايونو کې وايو:

،،له ... ځخه،،، ،،له ... سره،، او ځنو ځايونو کې بيا وايو:  د ... (نه) ځخه ، د... سره.

انګرېزي  يا ( او ) الماني يې ليکو او بيايې د پښتو د ژباړې سره پرتله کوو. ما دا له الملني ځخه ژباړلې او الماني مې له انګرېزي ځخه را نيولي يا ښه يې:  راژباړلي.

پيل له ،، له .. (ځخه)،، کوو او داسې مخ ته ځو:

د انګريزي from په الماني کې يې هغه غوره دا لاندې درې پ دي:  <u>ab</u> ، <u>aus</u> ، <u>von</u>  دا  درېواړه په پښتو کې هم  د ،،له ... ځخه،، په معنا دي. که وايو چې له هسکې مينې ځخه... ، دلته په الماني  <u>ab</u>  راځي، که وايو له سپين ځخه... ، نو <u>von</u>  راوړل کيږي، که وايو له اوسپنې جوړ دی، نو وايو ... <u>aus</u>.

که ،،له ... ځخه،،  وايو، نو له يو ځه ځخه يو ځه رابيليږي، ياې د يو ځه، مهل او له ځای ځخه يو ځه رابيليدل.

لکه: له سپين ځخه مې کتاب واخست.

دا جمله داسې ويلی شو: له سپين مې کتاب واخست يا له سپينه مې کتاب واخست او يا له سپين ځخه مې کتاب واخست.

همداسې: سپين ځخه مي کتاب واخست.

،، له ،، بې  له ،،ځخه،،  او  همداسې ،،ځخه،، بې له ،، له ،،   دی او که دواړه؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

وړانديز: که ،،څخه،، ورسره وي او که نه خو ،،له،، دې وي او يا ،،له... څخه،، او يا دا دواړه.

پورته مو وليدل: له هسکې مينې څخه...، له سپين څخه... او له اوسپنې څخه....

دا په دې معنا، چې: له يو ځای څخه ځي، له يو چا څخه څه رانيسي او له يو څه څخه يو شی جوړ دي، له يو څه څخه څه ساتي، د يو چا( له خوا ) څخه څه درکول کيږي.

دا په پام کې لرو، چې ،، له،، د ،،څخه،، سره يا بې له ،، څخه،، پ دی.

ور څخه در څخه، راڅخه، او داسې نورو ته دې هم پام وي، ترې څخه اوداسې نورهم.

په دې هکله به هم لږ تر لږه څه بيلګې راوړو

د پوښتنې په ځواب کې: تا له سپين څخه کتاب واخست؟

نه! ورڅخه اخلم يې.

يا داسې: له سپين څخه کتاب احلم. او داسې نور.

دلته دې ،،ورته،، يعني ،، هغه ته ،، ته هم پام وشي.

اوس راځو with ته، چې الماني يې ...mit دی :

موږ يې د الماني درې انډول پ را ا خلو: mit ، <u>bei</u> ، Dabei.

څه وکړو؟

،،له ... سره،، او که ،، د ... سره،،؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

که ،، له،، هغه د مخه تیر پ وي ، نو بیا خو یې دلته نه شو راوړی، هغه ،،ترې لرې کیدل،، دي او دا ،،ور سره یوځای کیدل دي،، یا ،، نښلول،، دي. دلته اړیو، چې ،، د ... سره،، ولیکو او نه ،، له... سره،،.

. په الماني ژبه کې ،،د... سره،، لږ تر لږه دا درې پ کارول کیږي: که ووایو، کتاب د... سره دی، نو دلته یې الماني mit دی. که ووایو، چې سپین د برګ سره دی، نو دلته یې ا bei راځي او که ووایو، چې هغه ورسره دی، نو دلته د ا Dabei راځي.

دلته دې بیا د ورسره ، درسره، را سره ته هم پام وي.

دلته به په دې بسیا وکړو او زما وړاندیز ګران لوستونکو ته دا دې، چې د نورو زده ژبو څخه دې ګټه واخلي، دا دې هغه ژبې وي، چې یو څه وده یې کړې وي.

## دا لاندې څه هم باید لږ د څیړنې لاندې ونیول شي.

یادونه:ما پورته په لومړي ځل ،، تر څرنې...،، ولیکل،خوورته پام مې شو او بیا مې ،،د څیرنې...،، ولیکه

څه راځي.............

در څخه ، ورڅخه، تر( ترې)څخه ، راڅخه او له څخه

له تا څخه ، له هغه ( هغې) څخه، له ما څخه دا نوتاسوډېر ګران ادیبان سره برابر کړی، چې دا په کومه ډله یا څه کې خوندي دي.

موږ به لږترلږه په هسکه مینه کې وایو: درنه ،ورنه، ترنه،....

د دې له پاره یوڅو غونډالې راوړ:

تا، ما،هغه، ... کتاب لروده. دا کتاب ما، ده، هغه .... در-- ،ور ---، را ----، تر ( ترې) ---.... څخه واخسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

دا داسې هم لیکلی شو: تا، ما،هغه( هغې) ، ده ( دې) ،....کتاب لروده. دا کتاب ما، تا، ده (دې) ، هغه (هغې) ،.... له تا، هغه(هغې)، ده (دې)،ما،.... څخه واخسته.

تا، ما،هغه(هغې) ، ... کتاب لروده. دا کتاب ما، ده (دې) ، هغه (هغې) .... در-- ،ور --- ، را ----، سره ولیده.

دا داسې هم لیکلی شو: تا، ما، ده (دې) ، هغه (هغې) ،....کتاب لروده. دا کتاب ما، تا، ده (دې) ، هغه (هغې) ،.... (د) تا، ده (دې) ، هغه (هغې) ،ما،.... سره ولیده.

لولو:

،،(د) او (لـه) سربلونـه دي چې په جمله کي تر نوم له مخه راځي.،،

ډېر پرې نه غږېږم، خوزه به دا داسې ولیکم:

(د) او (لـه) سربلونـه دي چې په جمله کي له نوم ( څخه) د مخه راځي.

او نور:

له...(څخه) د یوځای،وخت او یا یوڅه څخه یوڅه بیلیدنه ده یا پیل دئ.

بیلګې: له (سپین، ننګرهار،اته بجو) څخه ....

دا ،،له ،، دا دنده ونیوه، نو بله به نه ورکوو یعنې دا ،، له...سره،، په ځای به ،، د ...سره،، ولیکو، چې دا د ،،له،، په څټ دئ، نو،، له،، به د ،،د ...سره،، نه ستړی کوو.

د دې له پاره بیلګه: د سپین سره مې ولیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

## له دې ځايه شا ته يا مخ ته هغه ژباړه راځي.

زه د سپين سره ولاړ يم.

دا د سپين سره ودرېدل داسې نه دي، چې ګوندې کلک دې ورسره نښتى وي. دا کيدى شي، د نورو هغو کسانوسره، چې هغوي د سپن شاو خوا ولاړ وي، په هغه ځاى کې ولاړ وي او يا يې پلوى وي، خو د سپين په څنګ يا په خوا کې درېدل په دې مانا دي، چې ورسره نښتى ولاړ يې. همداسې د ويالې، کور، باغ،....،په منځ کې ولاړ، ناست،.... دلته ورسره ،،تر،، هم نه راځي، لکه چې ډېر ليکوال يې ورسره ليکو.

،،د،، ، ،، په،، ،، پورې،، ،، پر،، ،،ور،، لړ بايد روښانه شي.

،،د،، د سپين سره مې ...

د کتاب په منځ کې ....

په ما پورې اړه نه لري.

په ... کې.

پياله د ميز پر سر اينښې.

هو ما د ميزپرسر کيښوله.

هو ما ورباندې کيښوله

لولو: د کابل او د سعودي عربستان د جدې ترمنځ د لومړي ځل لپاره ...

..... ،، په منځ کې،، که ترمنځ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

پوښتنه: د ،، په منځ کې،، او که ،، ترمنځ،، .

د بوتل په منځ کې اوبه دي، که د بوتل ترمنځ اوبه دي.

یو به سم وي.

،، له ... څخه،، ، ،، د...سره،، او د مختړي.

دا د ،، د،، ،،، له،، ....،،څخه،، ، ،، سره،، مختړو ته به بیا هم ستاسو یو ځغلند پام را واړوم. موږ ځني پښتانه وایو، چې ،، د ... څخه(سره)،، اوځني بیا وایو چې : ،، له ... څخه (سره)،،.

،،له (د) ... څخه،، د یوه څه،چا، مهال او یا ځای څخه د یوه څه بیلیدنه ده. او د ،، (له) د ...سره،، د یوه څه یا چا ، مهال او ځای سره د یوه څه یوځای کیدنه ده.

د دې له پاره یو څو غونډالي(جملې) راوړو:

د ،، له ...څخه،، سره غونډالې:

له سپین څخه مې ...، له کابل څخه...، له درې بجو څخه...

له سپین(ه) مې ...، له کابل (ه) ...، له درې بجو ...

سپین څخه مې ...، کابل څخه...، درې بجو څخه...

په پورته کې ګورو چې دا مختړي ،، له ...څخه،، بې له ،، څخه،، ، همداسې بې ،،له،، څخه راتللی شي، دا په دې مانا، چې دا د بیلیدنې یا ترې بیلیدنې مختړی کیدی شي ،، له ...څخه،، ، ،، ...څخه،، ، همداسې ،،له ...،، راشي، یعني دا درېواړه ډولونه یې تیک برېښي، خوښه به یې ،، له ... (څخه)،، وي.

دا چې ،، له ،، د بیلیدنمختړي په ډول راځي،نو د ،، له ... سره،، بیا ځای نه لري.

که چیرې څه شی،مهال او یا ځای د پیل په څیر ریشي، نوکیدی شي، چې دا بې ،، له... څخه،، ریشي. د بیلګې په تګه: ۱۰ تر ۱۲ بجو(پورې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

شینګل تر سپین (پورې)

کابل تر کندهار ( پورې)

او هغه د رحمان بابا شعر ،، تل تر تله برقرار دئ رب زما،، ،چې زموږ.ادیبان ( تر هغې چې ماته معلومات دئ) ناسم ترې پوهیږي او دا د پیل ،، تل،، د ویم تل له پاره ټینګار بولي، دا لومړی تل پیل دئ اودا بل تر پسې پای دئ، یعنې : رب له تل څخه برقراردئ او تر تله برقرار دئ.

د ،، د...سره،،غونډالې:

د سپین سره ...، د کابل سره...، د درې بجو سره ...

سپین سره ...، کابل سره...، درې بجو سره...

د سپین ...، د کابل ...، د درې بجو ...

په پورته کې ګورو، چې د بې ،، سره،، غونډاله د ترنمختړي د پاره ناسمه ده، چې د ،، د ...سره،، موخه یا ،، ... سره،، موخه ورکړی شي.

لاسته راوړنه: ،، له ... سره،، په ځای همدا ،، د...سره،، سم دئ او،، ...سره،، دلته هغه ستمختړی دئ، بې له ،، د،،.

د ،، د،، مختړی د ملکیت د پاره راځي.لکه: د سپین کتاب... ، د کابل ښار ... ، د دریبجو په ...

# دا ټول بیا او کتل یې اړین بولم

د ِغوښتون حالت ټولګیزول

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

prepositions with the nominative: پرېپوزيښن د نوميناتيوسره

als (= than) ته .و...

- ( و... ته): سپين ( و) سهر ته خواريکښ دی.دا ،، ته ،، يا ،، ته ...ته،، د ،،نسبت،، لهپاره دی، څه په کې وايی.

prepositions with the dative پرېپوزيشنونه د داتيوسره

ab (= from له ) , außer (= other than پرته) , aus (= out وتلی ) , bei (= by ورسره ) , gegenüber (= opposite مخامخ) , mit (= withسره ... ( د)) , nach (= after پسې ) ,

seit (= since) له ( د وخت پيل) , von (= from (څخه ( ... له ) , zu (= to ته (و))

prepositions with the accusative پرېپوزيشن د اکوزاتيوسره

bis (= تر until) , durch (= ترځ through) , für (=له پاره for) , um (= شاوخواaround) , gegen (= مخامخagainst) ,ohne (= without بې ) , entlang (=اوږدوالي along)

- له: ،، له ،، کابل ترجلال اباد( پورې) . د له سره يو څه پيليږي او ،، تر ،، يې پای په ګوته کوي. د ،،تر،،بل هرځايکې راوړل ناسمدي، ناسم دياوناسم دي.

- پرته (بې) : نن ټول کسان ميلې ته لاړل، پرته (بې) له سپين.

- وتلی: توپ له ميدانه وتلی.

سپين د خرابې لوبې له امله له لوبې وتل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

مخامخ: ماته مخمخ کس مې ملګری دی.

(د) سره: سپین سره کتاب زما دی.

پرون مې (د) سپین سره ولیدل.

سره وروسته شننیز هم کتلی شی.

پسې یا وروسته: سپین له ما کور ته پسې (وروسته) راغی.

( von (= from له ...( څخه) : له اتوبجو څخه وروسته مې کتاب ولوسته.

د ،، له،،له پاره په الماني څلور په شتون لري،چې زه خبرې نه پرې کوم. بل ځای کې شته.

(و) ته نسبت : سپین ته زړور تیز بري. نسبت سپین ته زړور تیز برېښي. و سپین ته زړور تیز برېښي. نورهیې ستاسې خوښه چې څنګه یې سموی اویا سمه ده؟

پوښتنه دا ،،(و).. ته،، د نسبت له پاره سمه ده او که څنګه.

prepositions with dative or accusative

an (= on په) , auf (= on باندې (پ)ه) , in (= in کې (په)) , über (= over د پاسه) , unter (= under لاندې ) , vor (= in front of مخ ته ) , hinter (= behindوروسته ) , zwischen (= between منځ (کې)) , neben (= next to (څنګ ( کې)

پر (په ) : کتاب پر میز پرون دي. زه په (پر) سرک روان یم.

پیزي په ( پر) کوټه باندې پرون دی. کتاب په میز باندې پروت دی.

(په)...کې : زه نن په کور کې یم. زه نن په کور یم. زه نن کورکې یم. (خبرې دې په وشي)..

د پاسه : نن د ښار د پاسه الوتکه تیټه والوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

لاندې:ستا پنسلد چوکۍلاندې پروت دی.

مخ ته : سپين ستا مخ ته ولاړ دی.

شا ( ته): سپين ستا شاته ولاړ دی. سپين ستا تر شا پورې ولاړ دی. تر سره پورې شته.

منځ: د سرک منځ کې درېدل زيان لري.

څنګ: سپين ستا څنګ ته ناست دی. ستا ترڅنګ ناست دی،هلته سم دی،که موخه ،،تر څنګ پورې،، وي.

prepositions with the genitive

له امله: زه نن د سپين د ناروغۍ له امله درس ته نه ځم.

ترڅ (کې) يا په ترڅ کې: زه د ښوونکي د خبرو (په) ترڅ کې له ټولګي ووتم.

پسې: د کتاب لوستلو پسې په خپلو ستونځو وپوهيدم، چې څنګه اوبی شي.

په ځای: زه نن د کرځيدو له پاره د پغمان په ځای بابر باغ ته لاړم.

سره له دې: زما په خوست کې کار وو. سره له دې چې زه خوست ته تللی شوم، خو موخه مې د غزني ته تګ له امله بدله کړه.

wegen (= due to له امله ( ) ) , während (= while/during ترڅ (کې) ) , infolge (= as a result پسې ) , statt (= insteadپه ځای ) , trotz (= despite سره ( له دې))

## Classification by meaning

د مانا سره ټولګيزول

Prepositions of place د ځای پرېپوزېشن

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

د ډاکتر ماخان شینواري چاپ شوې لیکنې:

1988 Vienna (Austria):

لومړی:

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact pological algebra : general algebra 6 ; Page 117 – 122 contributions to

1987 Vienna (Austria):

دویم:

Interpolation und Aproximation durch Polynime in Universalen Diss . Uni. Wien Algebren .

*Interpolation and Aproximation by Polynome in universal Algebras, Dissertation at the University of Vienna/Austria*

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

لاندې د شمیرپوهنې پښتوټول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي

2000 Bonn (Germany):

دریم: د شمیرپوهنې ستر کتاب : د شمیرپوهنې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې لیکنه به یې ځنو ځایونو غزېدلې او ځنې ځایونه ترې لرې شوي دي)

2003 Bonn (Germany):

څلورم: ځمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو، زرو کې شمیرنه، د ګټې – او کټې د کټې شمیرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتیاوې پوره کوي

2003 Bonn (Germany):

پنځم: الجبرونه ( د الجبر بنسټونه دي)

2003 Bonn (Germany):

شپږم: د شمیرپوهنې انګرېزي – پښتو ډکشنري.

2003 Bonn (Germany):

اووم: د شمیرپوهنې الماني ـ پښتو- او پښتو الماني ډکشنري

*Mathematical dictionary German/ Pashto and Pashto/German*

2003 Bonn (Germany):

اتم: دفرنڅیال برابرون ( دا کتاب په دې ځانګه کې یو پیل دی، ساده لیکل شوی)

*Differential equation Translation; An Introduction*

Bonn (Germany): 2003

نهم: د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

*Mathematical Formulas*

2003 Bonn (Germany):

لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

1997 Bonn (Germany):

یوولسم: د افغانستان په هکله سپیڼي خبرې: په المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا

.یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې ساسي مجلې هم را وستلي.

د ډاکتر ماخان ،،میرې،، شینواري لیکنې او ژباړې چې په چاپیدو یې پیل کیږي

2012 Bonn; Germany; Kabul Afghanistan

ژباړې:

: *Prof. Brinkmann. (From Brinkmann.du.de)*

لاندې د برینکمن لیکنې چې له پرینکمن ن ج څخه ژباړل شوي دي.

۱ - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک

۲ – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک

۳ – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک

۴ - د احتمالوالي شمیرنه د ښوونځي لپاره

۵ – احصایه یا ستاتیستیک دښوونځي لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

۶ – انالیزی ۱

۷ – انالیزې ۲

۸ – کرښیز الجبر

۹ - د شمیرپوهنې بنسټونه

۱۰ - د فرمولونو ټولګه

۱۱ – فنکشنل انالیز

۱۲ – وکتور شمیرنه

نورې ژباړې

۱۳ – له www./grundstudium.info/linearealgebra څخه:کرښیز الجبر

۱۴ – Georg Gutenbrunner ګڼونپوهنه یا د اعدادو تیوري

زما لیکنې

Bonn (Germany):

۱۵ - د شمیرپوهنې ستر کتاب دویم چاپ لړمړیبرخه: د پوره تغیراتو سره : دا کتاب د شمیرپوهنې برخې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په کتاب کې د اړتیا سره زیاتونه او کونه راغلي

۱۵ الف- د شمیرپوهنې ستر کتاب دویمه برخه

۱۶ - ځمککچپوهنه ( هندسه) دویم چاپ د پوره تغیراتو سره

۱۷ – الجبر بنسټونه دویم چاپ له تغیراتو سره

۱۸ - ډېرۍ پوهنه یا سټ تیوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

۱۹ – د شمیرپوهنې سم اند ( منطق رياضي)

۲۰ - د یو څو شمیرپوهانو ژوندلیک

۲۱ – د شمیر پوهنې ګډې وډې لیکنې

۲۲- داهم ژباړه ده، خو لیکونکی یې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتیګرال شمیرنو ته تمرینونه او اوبیونې یا حلونه یې

۲۳ – د شمیرپوهنې انګریزۍ پښتو او عربي + درې ډکشنري

۲۴ – د شمیرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري

۲۵ – د شمیرپوهنې پښتو ډکشنري د شمیرپوهنیزو وییونو په پښتو روښانه ونه

۲۶ - د زړه له کومې( دا هغه لیکنې دي، چې ځنې یې په نړیول جالونو کې خپرې شوي دي.)

۲۷ – د افغانستان په هکله سپینې خبرې، چې وبه غزیږي.

نوري لیکنې، چې په ژباړه یې پیل شوی، خو لا پوره نه دي

۲۸– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپریږي: د ګروپونو تیوري

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

له پنځم ټولګي څخه تر اووم ټولګې پورې ژباړل شوی ( دا چې زما دويم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په څیر- دلته هم زیات تمرینونه د حل یا اوبیونې سره په کې راغلي او ماته زیات ګټور برېښي)

۲۹ - فزیک لومړۍبرخه

۳۰ – فزیک دویمه برخه. برېښنا پوهنه. همدا کتاب.

۳۱ – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شمیرپوهنې کتابونو ته کتنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

دا کتابونه پرته له یو څو نور نږدې ټول په www.ketabton.com کې د کتلو له پاره پورته شوي:

۳۲ – پرېپوزېشن همدا اوس.

## د لیکوال ژوند ته لنډه کتنه

ماخان په اولني نوم میري شینواری د ارواښادې پستو او ارواښاد نوررحمان زوي په ۱۳۲۰ ؟ ه لمریز کې د شینوارو هسکه مینه کې دې نړۍ ته سترګې راغړولي.

د هسکې مینې د لومړنې ښوونځي (د لومړنیو زده کوونکو څخه ) څخه وروسته

د رحمان بابا لیسه له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۵ پورې( ښوونځي له لومړي ټولګې پیل او د دویم ټولګې څخه ګام او پای). د ۱۹۶۶ تر سپتبر د کابل طب پوهنځی. له ۱۹۶۶ سپټمبر څخه د اتریش برس، چې هلته یې د شمیرپوهنې ډاکتري په پوره ستونځو تر لاسه کړه.

د۱۹۹۸۷ ش ک تر ۱۹۸۸ د فبروري تر پای د دباندنیو چارو وزارت کې مامور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com

د ۱۹۸۸ مارچ څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بن کې د افغانستان جمهوریت سفارت شارژد افیر( صفر نه وو).

له هغې وروسته په جرمنې کې سیاسي پناه. له ۲۰۰۸ مارچ څخه د ۲۰۰۹ دسمبر پورې د د ریاضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نساب کې دنده.

ماخان میرې په ۱۹۷۲ کې له لرې د میرمن ښاپیرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتریش ته راغی.

ده د میرمن ښاپیرۍ سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي څښتن په اتریش ویانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچیان وبخښل، چې څانګه او اباسین نومیږي. څانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسین ملي اقتصاد او ټولنیزه سایکولوژي لوستلې. ماخان شینواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۱۹ ۹۷ څخه همدا د کتابونو لیکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**